شريعت
ورځپاڼه
د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

د تأسیس کال ۱۳۷۴ هـ.ش / دوهم پړاو ۱۰۹۳ ګڼه / دوشنبه د محرم‌الحرام ۱۳مه ۱۴۴۸هـ.ق / د چنګاښ ۸مه ۱۴۰۵ هـ.ش / د جون ۲۹مه ۲۰۲۶ میلادي

د بهرنیو چارو وزیر د یوناما له نوي مرستیال سره لیدنه کې؛
د بشري مرستو تر څنګ دې بنسټیزې پراختیايي پروژې هم پلي شي

د بهرنیو چارو وزیر مولوي امیرخان متقي، د یوناما له نوي مرستیال او د بشري چارو همغږي کوونکي، برونو لامارک، سره د معرفت غونډه ترسره کړه. د بهرنیو چارو وزارت د معلوماتو له مخې، په دې لیدنه کې برونو لامارک د بشري مرستو د اغېزمن مدیریت او د مرستو د وېش د ښه والي په اړه خپل نظرونه شریک کړل. مولوي امیرخان متقي د بشري مرستو ترڅنګ د پراختیايي او زېربنايي پروژو د پلي کېدو پر اهمیت ټینګار وکړ او ویې ویل: اسلامي امارت به په دې برخه کې له ملګرو ملتونو سره خپلو همکاریو ته دوام ورکړي. بله خوا، د یوناما نوي مرستیال د ده د هرکلي له امله مننه وکړه او ژمنه یې وکړه، چې د ورسپارل شویو دندو د اغېزمن ترسره کولو لپاره به خپلې ټولې هڅې وکړي. نوموړي همدارنګه د افغانستان او ملګرو ملتونو ترمنځ د تعامل او په بېلابېلو برخو کې د همکاریو د لا پراختیا پر اهمیت هم ټینګار وکړ.

اقتصادي کمېسیون د خصوصي سکتور د پراختیا لپاره نوې طرحې تائید کړې

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېسیون نوبتي غونډه پرون په مرمرینه مانۍ کې جوړه شوه. په غونډه کې د نویو کورنیو او بهرنیو پانګونو د هڅونې او جذب لپاره د مالیاتي او ګمرکي معافیت د تطبیق پر لازمو بحث وشو. له بحث وروسته تاکل شوې کمېټې ته دنده وسپارل شوه، تر څو د دغه لارښود د لا غني کېدو په موخه تخنیکي مجلسونه ترسره او نهايي شوې بڼه یې د اقتصادي کمېسیون راتلونکې غونډې ته وړاندې کړي. په دې غونډه کې د تخار ولایت په مرکز تالقان ښار کې د ښاروالۍ پر ځمکه د سوداګریز مارکېټ جوړولو طرحه هم تایید شوه. د طرحې له مخې به خصوصي سکتور د ۱۱۰ میلیون افغانیو په پانګونې سره اووه پوړیز سوداګریز مارکېټ جوړ کړي، چې لسګونو هېوادوالو ته به کاري فرصتونه رامنځته کړي. د اقتصادي کمېسیون دې غونډې ته د یوشمېر تعقیبي موضوعاتو راپورونه هم وړاندې شول، چې اړوندو ادارو ته یې په اړه لازمي لارښوونې وشوې. یادې پرېکړې د نهايي تصمیم نیونې په موخه د عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ صاحب حفظه‌الله دفتر ته واستول شوې.

بغلان؛ د مهاجرینو په راستنېدو سره د غالۍ اوبدلو صنعت پراخ شوی

په بغلان ولایت کې د غالیو اوبدلو صنعت د ځايي مسؤلینو په وینا د تېر کال په پرتله شاوخوا ۲۰سلنه وده کړې ده. د غالیو اوبدلو اتحادیې رئیس محمد عارف ویلي چې تېر کال په دغه ولایت کې ۵۷۰ تولیدي کارخونې فعالې وې، خو دغه کارخونې په ځانګړي ډول په دهنه غوري، ډنډ غوري، دوشي او د پلخمري ښار شاوخوا سیمو کې فعالیت لري او د تولید کیفیت یې لوړ بلل کېږي. مسئولین وایي چې د بغلان غالۍ ځینو بهرنیو هېوادونو ته صادرېږي او هر متر مربع یې له ۱۵

تر ۳۰۰ ډالرو پورې پلورل کېږي. له ګاونډیو هېوادونو د راستنېدونکو مهاجرینو له امله ۱۱۵ نوې فابریکې هم جوړې شوې دي. د ده په وینا، دوی له حکومته د لا زیات ملاتړ غوښتنه کړې ده.

میدان وردګ؛ دایمیرداد ولسوالۍ کې ۳۰ بستریز روغتون جوړېږي

د میدان وردګو ولایت د عامې روغتیا ریاست مسئولینو ویلي، چې د دغه ولایت په دایمیرداد ولسوالۍ کې د ۳۰ بستریز روغتون د جوړېدو چارې پیل شوي. په یاده موخه جوړه شوې غونډه کې د عامې روغتیا وزیر مولوي نور جلال جلالي وویل، چې د عالیقدر امیرالمؤمنین «حفظه الله» د لارښوونې له مخې په ټولو هغو لرې پرتو سیمو کې روغتیايي مرکزونه جوړېږي، چې اوسېدونکي یې روغتیايي خدماتو ته لاسرسی نه لري. ورته مهال د یاد ولایت د علماوو شورا رئیس شیخ عبدالهادي فضلي ویلي: اسلامي امارت ژمن دی، چې خلکو ته د اساسي خدمتونو زمینه برابره کړي. د یادونې وړ ده، چې د دغه روغتون په بشپړېدو سره به د دایمیرداد ولسوالۍ زرګونو اوسېدونکو ته معیاري روغتیايي خدمتونه وړاندې شي.

له هرات څخه بېلابېلې تازه مېوې د منځنۍ اسیا هېوادونو ته صادرېږي

د هرات د تازه مېوو او سبزیو ټولنې رئیس عبدالاحد هدایت رحماني ویلي چې د هرات له لارې لس ډوله تازه مېوې د منځنۍ اسیا هېوادونو،

عراق او متحده عربي اماراتو ته صادرېږي. ده زیاته کړې چې که څه هم د صادراتو اوسنۍ کچه لا بسنه نه کوي، خو د تېر کال په پرتله د تازه مېوو صادرات له ۵ تر ۱۰ سلنې پورې زیات شوي دي. د ده په وینا، افغانستان د تازه مېوو د تولید او صادراتو د پراختیا لپاره پراخ ظرفیت لري او په صادرېدونکو مېوو کې هندوانې، ختکي، ګیلاس، الوبالو، شفتالو او مڼې شاملې دي

نشه يي توکي
د انسان د تدریجي مرګ سبب کېږي!
۲مخ

سرمقاله

د فلسطین قضیه او د سیمې نوي سیاسي بدلونونه!

نږدې اته لسیزې کېږي چې د فلسطین مسئله د اسلامي نړۍ او نړیوال سیاست له مهمو موضوعاتو څخه ګڼل کېږي. په دې موده کې د فلسطین ولس له جګړو، بې‌ځایه کېدو، محاصرې او بشري ناورینونو سره مخ شوی او زرګونه بې‌ګناه وګړو، ښځو او ماشومانو خپل ژوند له لاسه ورکړی دی. سره له دې چې د اسلامي هېوادونو مشرانو په بېلابېلو وختونو کې د فلسطین د ملاتړ خبرې کړې دي، خو د عملي او اغېزمن دریځ د نشتون له امله لا هم د فلسطین ستونزه پر خپل ځای پاتې ده.

په دې وروستیو کلونو کې د سیمې کړکېچ یوازې تر فلسطینه محدود پاتې نه شو، بلکې لبنان، یمن، سورېې، عراق او ایران ته هم وغځېد. د ایران او اسرائیلو ترمنځ د سیاسي او پوځي سیالۍ پراخېدو د منځني ختیځ امنیتي وضعیت لا پېچلی کړ. په دې لړ کې دواړو خواوو یو پر بل مستقیم او غیر مستقیم بریدونه ترسره کړل او د سیمې ګڼ هېوادونه یې د احتمالي پراخې جګړې له ګواښ سره مخ کړل.

که څه هم د جګړو په پایله کې ایران، فلسطین، لبنان او یمن ته درانه مالي او بشري زیانونه واوښتل، خو مقابل لوري (غاصبو یهودو او امریکا) ته هم د پام وړ بشري، پوځي، اقتصادي او سیاسي زیانونه واوښتل. د همدې فشارونو له امله د جګړې د پراخېدو د مخنیوي لپاره د منځګړیتوب هڅې پیل شوې او د بېلابېلو هېوادونو په هڅو د خبرو اترو زمینه برابره شوه.

له وروستیو تحولاتو دا څرګندېږي چې د امریکا او ایران ترمنځ د کړکېچ د کمولو لپاره ځینې تفاهمات او ډیپلوماټیکې هڅې وشوې، خو وروسته بیا داسې پېښې رامنځته شوې چې د دواړو خواوو ترمنځ د باور فضا یې زیانمنه کړه. د امریکا له لوري پوځي اقدامات او د ایران له خوا د ځوابي بریدونو ترسره کېدل دا څرګندوي چې د سیمې بحران لا هم بشپړ حل شوی نه دی او هر وخت د تاوتریخوالي د بیا زیاتېدو احتمال موجود دی. ۳مخ

د آریانا - افغان هوايي شرکت بوینګ چارټر الوتکه کابل ته راورسېده

د آریانا - افغان هوايي شرکت یوه بوینګ چارټر الوتکه د کابل نړیوال هوايي ډګر ته راورسېده. یاد شرکت ویلي: دغه الوتکه د شپږو میاشتو لپاره د اردن له هوايي شرکت څخه چارټر شوې او د ۲۹۰ مسافرو او ۲۵ ټنه بار د لېږد ظرفیت لري. ټاکل شوې چې دغه الوتکه به سر له ... ۳مخ

د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د خپرونو چارو معین:
د ناشرانو او مطابعو ستونزو ته دې پر وخت رسېدنه وشي

د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د خپرونو چارو معینیت اړوند د کاپي‌رایټ آمریت له خوا له ناشرانو، کتاب پلورونکو او د مطبعو له مسئولینو سره د همغږۍ غونډه ترسره شوه.

په دې غونډه کې د چارو اداري عمومي رئیس شیخ نورالحق انور، د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د خپرونو چارو معین ښاغلي مهاجر فراهي، د کابل ښاروالۍ د فرهنګي چارو رئیس قاري ولي ګل جواد، ناشرانو، کتاب پلورونکو، د مطبعو مسئولینو او لیکوالانو ګډون کړی و. ښاغلي شیخ نورالحق انور د کتاب او مطالعې د ارزښت، ګټو او په ټولنه کې د مطالعې د فرهنګ ... ۳مخ

رسیدگی به ۷ منازعه و نجات ۱۲ زن از خشونت‌های خانوادگی

وزارت امر بالمعروف، نهی عن‌المنکر و سمع شکایات اعلام کرد که ۱۲ زن را از خشونت‌های خانوادگی در چهار ولایت کشور نجات داده و همزمان به هفت پرونده منازعه و دشمنی در پنج ولایت رسیدگی نموده و آن‌ها را حل‌وفصل کرده است. این وزارت با نشر خبرنامه‌ای گفته است که ۱۲ زن در ولایت‌های ننگرهار، لغمان، میدان وردک و بلخ از خشونت‌های خانوادگی نجات یافته اند. بر بنیاد این خبرنامه، همچنین هفت ... ص۳

پکتیکا کې د ۲۰ کیلومتره سړک د رغونې چارې پیل شوې

د ټولګټو چارو وزارت له لوري د پکتیکا ولایت له ارګون ولسوالۍ څخه د سروبي ولسوالۍ تر رباط سیمې پورې د ۲۰ کیلومتره سړک رغنیزې چارې، د ۵۶۰ میلیونو افغانیو په لګښت د پکتیکا ولایت ... ۳مخ

بغلان کې د کورنیو تولیداتو او محصولاتو درې ورځنی ننداړتون پرانیستل شو

د بغلان ولایت د صنعت او سوداګرۍ ریاست له لوري په پلخمري ښار کې د کورنیو تولیداتو او ملي محصولاتو درې ورځنی ننداړتون پرانیستل شو. د یاد ولایت د صنعت او سوداګرۍ رئیس قاري محمد نعیم همکار باختر اطلاعاتي اژانس ته وویل، چې په دغه ننداړتون کې صنعت کارانو، تولیدوونکو او سوداګرو ته ۸۵ غرفې ځانګړې شوې دي، څو خپل بېلابېل کورني تولیدات او محصولات ننداړې ته وړاندې کړي. د نوموړي په وینا، په ننداړتون کې خوراکي توکي، لاسي صنایع، کرنیز محصولات، کاني توکي، جامې، د پاکولو مواد او نور کورني تولیدات ننداړې ته وړاندې شوي دي. ده د دغه ننداړتون موخه د صنعت کارانو ملاتړ، د کورنیو تولیداتو پیاوړتیا، د ملي صنایعو پراختیا، د کورنیو ... ۳مخ

نشه يي توکي د انسان د تدريجي مرګ سبب کيږي!

حيات الله حليم

دا يو ښکاره حقيقت دی چې د ترياکو استعمال په هره بڼه چې وي د بشر لپاره د مار د زهرو په شان وژونکی اوخطرناک تماميږي، ځيني څېړونکي ترياک او د مار زهر له يوه معدن څخه بولي، خو ترياک د کوکنارو له کرکيلې او د هغو له شېرې څخه چې د بزګرانو په لاس کرل کيږي، لاس ته راځي چې هر ډول استعمال يې د بشر د تدريجي مرګ سبب کيږي او عامل يې په ښکاره هغه بزګر دی چې کوکنار کري، په داسې حال کې چې زهر د مار په حلق کې هغه جوړه شوې ماده ده چې د انسان بدن ته په دا خلېدو سره ژر د مرګ سبب کيږي، خو په زړه پورې داده چې ترياک او د مار زهر يو د بل ضد هم دي او په لرغونو زمانو کې به په هندوستان کې چې د مارانو ملک دی مارچيچلي له ترياکو څخه په جوړ شوي معجون مداوا کېدل.

جالبه له ټولو دا خبره ده چې لومړنيو انسانانو کوکنارڅنګه وپېژندل ؟ او ولې يې له دې ناولي بوټي سره سروکار اوملګرتيا پيدا شوه؟

انسان چې کله د مځکې پرمخ ګام کېښود، نو د هوا له مرغانو او له وحشي لويو او کوچنيو ځناورو هم عاجز او کمزوری و، خو د زماني په تېرېدو سره همدغه کنجکاو انسان د خپل عقل اوشعور په مرسته ورو، ورو پر خپل چاپېريال غلبه پيدا کړه، وحشي حيوانات او مرغان يې ښکار کړل، د هغو غوښې يې وخوړلې، په طبيعت کې يې ښه او بده ګياه تفکيک کړه، له ښې يې ګټه واخيسته او بده يې له پامه وغورځوله، خو ويې پېژندله، لنډه داچې انسان په طبيعت کې هرڅه مطالعه او د هر بوټي او ګياه مزه يې وڅکله، تردې منځ يې يو ناڅاپه د کوکنارو بوټي ته چې تردې مهاله په طبيعت کې په کاملاً وحشي ډول پيدا کېده، پام ورواوښت، د کوکنارو له غوزې يې د فشار په واسطه شيره را وايستله، هغه يې وڅکله، داچې ډېره ترخه وه، ژر يې تف کړه، خو د ترياکو د شېرې دې څکې يې پر خوله او ژبه داسې اغېزې پر ځای پرېښودې چې د بيا څکلو اراده يې وکړه، خپل نور ملګري يې هم را خبر کړل، هغوی هم د دې مادې په څکلو سره د خپلو ژبو سرونه ترخه کړل، څو د زمانې په تېرېدو سره د کوکنارو په وچه شيره (ترياکو) کې د درد په مقابل کې مسکن کيفيت ومونډل شو او په دې توګه يې د لومړي ځل لپاره بشر په استعمال روږدی شو، دا وخت په طبيعت کې د انسان د اړتيا وړشيان له يوې مخې مفيد نه وو، بلکې مضر او زيان رسوونکي شيان هم د دوی په شاوخوا کې پيدا کېدل، ترياک چې کله وپېژندل شول، نو د روم او يونان په مدنيتونو کې يې له مثبت اړخ نه ګټه واخيستل شوه او د درملنې او مداوا لپاره د اړتيا په اندازه وکارول شول، خوکله چې د (مسکنو) ټولو درملو، خام مواد ترياک شول او عام خلک هم په دې وپوهېدل چې ترياک درمل دي، نو په نبغه يې هم له ترياکو ګټه واخيستله چې د زماني په تېرېدو سره يې د مسکن استعمال د اعتياد سبب شو، ترياک له تنباکو نه په لوړه کچه نيکوتين او نشه يی کيفيت لري، د تنباکو د کورنۍ توکي لکه نسوار، چلم او سګرت په آسانه پرېښودل کيږي، خو د ترياکو د کورنۍ روږدي کسان بيا د خپل عمل په پرېښودلو کې له سختو ستونزوسره مخ کيږي او په سلو کې يو يا دوه کسان په دې توانيږي چې د ترياکو کورنۍ عمل ترک کړي، پخوا به د عامو خلکو له خوا ترياک د غمزې، خامو خوړلو او په چلم کې د څکولو په بڼه استعمالېدل چې د انسان بدن ته يې د مرګ ترپولې زيان نه و تکيه کړی، خو په دې وروستيو کې کله چې د نړۍ په لابراتوارونو کې له ترياکو څخه د (هروئينو) په نامه ماده را وزيږېدله، نو نشه يې خطرناکه او د کوکنارو د کورنۍ له ټولو بده او خطرناکه نشه ترې جوړه شوه او د بشر ژوند يې په ښکاره له ګواښ سره مخ کړ، ځکه د هېروئينو استعمالوونکی په لنډه موده کې د مرګ تر پولې رسيږي، هغه څوک چې په هروئينو روږدی شي په خواشينۍ سره چې بيا د انسانيت له چوکاټ نه هم وځي او يوه داسې چوکاټ ته داخليږي چې (ژوندی هېڅ (!) ترې جوړيږي) ځکه دغه روږدي کسان هرځای په خاورو اوخځلو کې پراته او د عابرينو او حاضرينو د نفرت وړ ګرځېدلي وي، جالبه دا ده چې پر نشه روږدي دغه کسان له اوبو سخت وېرېږي، نو ځکه تل ککړ، خيرن او ګنګس ګرځي .

د پوډرو (هروئينو) نشه د ترياکو د کورنۍ له ټولو بده او خطرناکه نشه ده چې استعمال يې د انسان د بدن توازن سل سلنه له منځه وړي او په ټولنيز لحاظ له انسان څخه يو بېزار او بې ارادې موجود جوړوي، په نوره نړۍ او حتی ګاونډيو هېوادونو کې د ترياکو کورنۍ د نشې پر ټولو ډولونو کلک بنديز دی، استعمالوونکي، پلورونکي او له لويه سره سوداګران يې مجرم دي او د عدلي مقاماتو له خوا د اعدام ترسرحده پورې جزا ورته ټاکل کيږي، خو برعکس په افغانستان کې د کابل اداري تر رنګېدو پورې د هغو استعمال، پېر، پلور او کرکيله د آزاد بازار د اقتصادي سياست له مخې آزاده او روږدي کسان به هم د ښار په واټونو کې د امنيتي مقاماتو ترغټو او رڼو سترګو لاندې د ژوند په وروستيو شېبو کې په سلګيو وو، له نېکه مرغه چې اوس د اسلامي امارت د زړه سواندو مقاماتو په نوښت روږدي کسان د درملنې لپاره روغتيايي مرکزونو ته ورپېژندل شوي او ډاډمنه درملنه يې کيږي.

په افغانستان کې پر نشه يی توکو د روږدو کسانو شمېر د پنځه نيمو کالو مخکنيو ارقامو له مخې تر درې ميليونو کسانو پورې رسېده چې له نېکه مرغه اوس د اسلامي امارت د اسلامپال او بشرپال سياست له مخې دا وېروونکې شمېره تقريباً د صفرکچې ته را ټيټه شوې ده.

د صحابه کرامو د ژوند لنډ او جالب داستان!

عبدالعزيز عزام

د رسول الله ﷺ له بعثت او نبوت څخه مخکې د حجاز په سيمه کې عرب قوم ژوند کاوه. که څه هم دوی د فصاحت او بلاغت خاوندان وو، خو د ناپوهۍ، قومي تعصبونو، قبيلوي شخړو او بېلابېلو جاهلي رواجونو په منګولو کې راګير وو. د علم او هدايت له رڼا څخه لرې وو او آن تر دې چې ځينو به خپلې لوڼې ژوندۍ خښولې.

کله چې الله تعالی د خپل حکمت او سنت له مخې حضرت محمد ﷺ د وروستي پيغمبر په توګه راولېږه، نو د عربو ډېرو خلکو ورسره مخالفت وکړ. قريشو او نورو مشرکانو د هغه دعوت ونه مانه، بلکې بېلابېل تورونه يې پرې ولګول؛ کله به يې جادوګر، کله شاعر او کله به يې لېونی باله. رسول الله ﷺ او د هغه ملګرو ته يې سخت تکليفونه او ربړونه ورسول. خو په همدې ستونزمنو شرايطو کې يو شمېر نېکمرغو انسانانو د رسول الله ﷺ په دعوت ايمان راوړ. نارينه، ښځې او ماشومان د اسلام تر سيوري لاندې راغلل او د حق د لارې ملګري شول. دوی د هر ډول سختيو، شکنجو او قربانيو باوجود د خپل دين او پيغمبر ملاتړ وکړ او د ايمان په لاره کې د ټينګو غرونو په څېر ودرېدل.

د قرآنکريم د نزول په دوام سره د اسلام رڼا ورځ تر بلې خپرېده. هغه خلک چې پرون د اسلام مخالف وو، په تدريج سره د حق لارې ته راغلل او د رسول الله ﷺ ملګري شول. صحابه کرامو رضی الله عنهم د قرآنکريم احکام په بشپړ اخلاص عملي کول او د رسول الله ﷺ هر امر ته به يې له ځنډ او تردد پرته غاړه اېښوده.

د دوی د اخلاص، صداقت او قربانيو په برکت الله تعالی دوی د امت له ټولو غوره نسل وګرځاوه. رسول الله ﷺ فرمايلي دي:

ژباړه: «غوره خلک زما د زمانې خلک (صحابه) دي، بيا هغه کسان چې له هغوی وروسته راځي او بيا هغه کسان چې له هغوی وروسته راځي.»

صحابه کرامو رضی الله عنهم د اسلام د خپرولو لپاره سترې قربانۍ ورکړې. ځينو هجرتونه وکړل، ځينو په غزاوو کې ګډون وکړ، ځينو د شهادت جام وڅښه او ځينو د علم او دعوت مشعل تر لرې سيمو ورساوه. د دوی په هڅو د اسلام پيغام د عربو له ټاپووزمې څخه د نړۍ بېلابېلو سيمو ته ورسېد.

کله چې رسول الله ﷺ خپل رسالت بشپړ ادا کړ او الله تعالی د وصال بلنه ورکړه، صحابه کرامو د هغه مبارک دين د ساتنې او خپرولو ستر مسئوليت پر غاړه واخيست. دوی د اسلامي نظام بنسټونه ټينګ کړل، عدالت يې خپور کړ او د قرآن او سنتو پيغام يې راتلونکو نسلونو ته په امانت وسپاره.

که څه هم د رسول الله ﷺ له وفات وروسته ځينې فتنې او اختلافات راپيدا شول، خو صحابه کرامو رضی الله عنهم د اسلام د ساتنې لپاره نه ستړې کېدونکې هڅې وکړې. د دوی ترمنځ د ورورولۍ، احترام او ديني اخلاص اړيکې موجودې وې او د امت د خير لپاره يې ستر خدمتونه ترسره کړل.

صحابه کرام رضی الله عنهم د آسمان د ځلېدونکو ستورو په څېر وو. دوی د هدايت هغه کاروان و، چې د الله تعالی په اراده او د رسول الله ﷺ په مشرۍ، د حجاز له خاورې راپورته شو، د نړۍ ګوټ ګوټ ته يې د ايمان، علم او عدالت پيغام ورساوه او د بشريت لپاره يې د قربانۍ او وفادارۍ تلپاتې بېلګې پرېښودې.

نن چې اسلام تر موږ پورې را رسېدلی، د الله تعالی له فضل وروسته د همدې مبارکو انسانانو د اخلاص، امانتدارۍ او قربانيو برکت دی. له همدې امله مسلمانان تر نن ورځې د دوی نومونه په درناوي سره اخلي او له هر صحابي سره «رضي الله عنه» وايي.

الله تعالی دې له ټولو صحابه کرامو رضی الله عنهم څخه راضي وي او موږ ته دې د هغوی د ايمان، اخلاص او سنتو د پيروۍ توفيق راکړي. آمين.

د هېواد جوړونې وياړ هم بايد خپل کړو!

شېرمحمدامينې ستانکزی

افغان ولس د خپل تاريخ په اوږدو کې د بېلابېلو يرغلګرو او نيواکګرو پر وړاندې د مېړانې، قربانۍ او سرښندنې بې‌سارې بېلګې وړاندې کړې دي. له انګرېزانو نيولې تر پخواني شوروي اتحاد پورې او وروسته د امريکايي پوځي اشغال په شتون کې زموږ هېواد څو ځله له جګړو او سختو بحرانونو سره مخ شوی دی.

د دغو بحرانونو پر مهال افغانستان له سختو زيانونو سره مخ شو، کلي او ښارونه ويجاړ شول، اقتصادي بنسټونه کمزوري شول او خلک له ګڼو ستونزو سره مخ شول، خو د افغان ولس د جهاد او سرښندنو په پايله کې ملي حاکميت او خپلواکي وګټل شوه او بهرني ځواکونه له دې خاورې په زور وشړل شول.

په تېره يوه پېړۍ کې افغانستان درې ځلې تر سترو نړيوالو پوځي اشغالونو لاندې پاتې شوی و. افغانانو، سره له دې چې محدود امکانات يې لرل، د خپل دين، وطن او ملي ارزښتونو د دفاع لپاره سترې قربانۍ ورکړې. همدا سرښندنې او نه ماتېدونکې اراده وه، چې د افغان ولس نوم يې د تاريخ په پاڼو کې روښانه وځلاوه، خو د دې وياړونو تر څنګ، جګړو هېواد ته درانه زيانونه هم پرېښودل، چې جبران يې د وخت يوه مهمه اړتيا ګرځېدلې ده.

نن ورځ افغانان د يوه نوي تاريخي مسئوليت پر وړاندې ولاړ دي، که پرون د آزادۍ او خپلواکۍ ساتنه زموږ لوی وياړ و، نن د هېواد بيا رغونه، پرمختګ او آبادول بايد زموږ د وياړ يو بل باب پرانيزي. د اتلولۍ تاريخ خو ليکل شوی دی، اوس د دې اړتيا ده، چې د پرمختګ، کار او جوړونې تاريخ هم وليکو. دا بدلون يوازې شعار نه؛ بلکې عملي هڅو ته اړتيا لري.

افغانستان د اوږدو جګړو له امله د اقتصاد، زېربناوو او پراختيا په برخو کې له جدي ننګونو سره مخ شوی دی. د دې وضعيت د بدلولو لپاره د ټولو افغانانو ګډ کار، يووالی او ملي همکاري اړينه ده، چې هر وګړی د خپل وس او توان په اندازه وکولی شي د هېواد په جوړونه کې برخه واخلي. که په ښوونيزه برخه کې وي، که په کرنه، صنعت، سوداګرۍ يا په نورو تخنيکي برخو کې وي، خو ونډه يې لازمي ده.

نن په هېواد کې ډاډمن ثبات او د امنيت يو مناسب فرصت رامنځته شوی دی، دا فضا بايد د اقتصادي ودې، علمي پرمختګ او ټولنيزې هوساينې لپاره په اغېزمن ډول وکارول شي. ثبات يوازې امنيت نه دی؛ بلکې د پرمختګ لپاره يو قوي بنسټ دی، چې د هر ډول پرمختيايي فعاليتونو زمينه برابروي.

د افغانستان راتلونکی د افغانانو په خپلو لاسونو کې دی، که موږ د ملي ګټو، ګډو ارزښتونو او يووالي پر محور راټول شو، کولای شو هېواد د سوکالۍ او پرمختګ پر لور بوزو. د بهرنيو مرستو پر ځای د کورنيو ظرفيتونو پياوړتيا، له ملي منابعو سمه استفاده او د بشري ځواک روزنه هغه لارې دي، چې افغانستان پر خپلو پښو درولای شي.

راځئ، چې د تېرو وياړونو تر څنګ يو بل لوی وياړ هم خپل کړو؛ هغه وياړ چې د آباد، پرمختللي او پر ځان بسيا افغانستان په جوړولو ترلاسه کېږي. دا به زموږ او راتلونکو نسلونو لپاره يو داسې ميراث وي، چې د نړۍ د ملتونو ترمنځ به د افغان ولس د عزم، ارادې او بريا يوه بله روښانه بېلګه وګرځي.

د ماشوم روزنه او تربيه

مولوي خالد تسل

د ماشوم روزنه او تربيه د ماشوم د ژوند لومړی اقدامي پړاو دی، چې د والدينو او بالخصوص د مور په توسط پيلېږي او په وسيله يي کرار ـ کرار د ماشوم خوی بوی، خصلتونه او عادتونه رغېږي.

هڅه کوم د ماشوم د روزنې عملي مېتودونه او کړنلارې درسره شريکې کړم.

ماشوم ولي له پامه لوېږي (غورځي)؟

د دې پوښتنې ځواب ممکن ډېر څه وغواړي؛ خو زه به يې لس عمده لاملونه له تاسو سره شريک کړم.

پنځه د مور بد عادتونه او پنځه هم د پلار بد عادتونه دي چې د ماشوم په روزنه او تربيه باندې زياتې اغېزې پرېباسي.

د مور پنځه بد عادتونه :

۱. د مور شکوې او شکايتونه.

د مور د شکايتونو اورېدلو له امله، ماشوم ته کورنی چاپېريال منفي برېښي او تل په ذهني فشار کي اوسېږي.

۲. مور د خپل بچي ناسمه پرتله، د نورو له صالحو بچيانو سره کوي (خو د خپل بچي اصلاح نه کوي او صالح يي غواړي).

له همدې امله ماشوم په روزنيزه دوره کي(آن په کورني چاپېريال کي هم) د احساس کمترۍ ښکار کېږي.

د ماشوم احساس کمتري هغه وبا ده، چي ماشوم که هر څومره استعداد ولري، خو بيا هم هغه استعداد يې هېڅ نه رابرسېره کېږي ځکه چي اسباب ترې سلب شوي وي.

۳. د مور تنقيد کول.

مور چې د کورنيو کارونو د ستړيا له امله او يا هم د بل شي له امله ماشوم ته د ميني پر ځای نقدي څرګندوني کوي، نو له امله يي ماشوم هم ځان ناکام بولي. ماشوم فکر کوي چي رښتيا هم دا کار ما کړی دی، ډېر بد دی؛ خو خبره هغه نه وي، بلکې د مور ذهني او بدني ستړيا د دې باعث ګرځېدلې وي، چي ماشوم باندې نقد وشي.

که نه دغه وخت د ماشوم د هرې تېروتنې په مينه سره د حل وخت دی، نه په تنقيد سره د مشکل جوړولو.

۴. د ماشوم د يو بد کار په وخت کي د مور خاموشي.

يادونه: تېر صورت د افراط ؤ او دا د تفريط.

مور چي په وړو او نا وړو کارونو کې د ماشوم هڅونه او وېرونه پرېږدي او تل د ماشوم په وړاندي چپه خوله پاتې کېږ، نو په دې سره ماشوم د شک ښکار کېږي، ګنګسېږي، نه پوهېږي چي څه غلط اجراء شول او څه سم او څه د کولو وو چي ما ونه کړل او څه د نه کولو چي ما وکړل.

۵. د مور ضد کول.

ماشوم هم له مور څخه د ضد ليدلو په صورت کي ځان ضدي جوړوي او ماشوم دا زده کوي، چي خپله غلطي، کمزوري او تېروتنه منل کمزوري کار دی.

همدغه چلند او رويه د ده په ژوند کې هم راځي.

د پلار بد عادتونه

۱. د پلار غصه کول.

د پلار د غصې له امله ماشوم خوف زده(ډارن) ګرځي او خپل کور غير محفوظ ګڼي.

۲.د پلار بې پروايي.

ماشوم د پلار په لا تعلقۍ، بې پروايۍ او ځانځانۍ سره خپل ځان نظر انداز کوي او دا احساس ورسره پيدا کېږي، چي زه خو د هېڅ اهميت وړ نه يم، ځکه چې پلار مې راته هېڅ التفات نه کوي.

۳. د پلار د نرمۍ پر ځای باندې سختي کول.

د پلار د تندۍ او سختۍ له امله د ماشوم د باور او اعتماد ماده سلبېږي، هغه داسې حالت ته رسېږي، چي بيا د خپلې رايي ښکاره کول ورته عيب برېښي او د وېرې احساس کوي.

۴. د پلار لا پروايي (بې توجهي).

پلار چې پر ماشوم نظر نه ساتي، تاوان يې دا دی، چي ماشوم ور څخه دا زده کوي چې په رشتو کې احترام ضرور نه دی، ځکه چې پلار مې زما خيال نه ساتي.

۵.د پلار پېغوريزه لهجه او ژبه.

د پلار د پېغور له امله د ماشوم په ذهن کي منفي او ناوړه خبرې ننوزي او د ماشوم پر ځان باور هم ورسره زيانمنېږي.

په پای کي دا درته وايم چې ښه کورنۍ او د ماشومانو د مينې نړۍ د هر چا خوښېږي، خو د ماشوم پالنه او روزنه تاسو ته دغه دواړه درکوي.

تاسو مهرباني وکړئ، د دغو او نورو مېتودونو له لارې خپل واړه، معصوم او کمزوري ماشومان په مينه وروزئ تر څو ستاسو روزي شي.

په همدې هيله

افغان اعلانات

اعلان مفقودی

یک قطعه جواز ساختمانی سرکسازی وتولید مواد ساختمانی کابورا دارای نمبر 25688 -D به اسم بصیر احمد ولد مرزا محمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط است.۳۰۳۸

اطلاعیه فسخ دفتر رهنمای معاملات

اسامی محترم نور الله فرزند امین الله صالح محمد دارنده جواز ۷۲۱ مورخ ۱۴۰۵/۲/۱۰ متصدی رهنمای معاملات امین زی واقع پروژه جدید خیرخانه ناحیه ۱۱ شاروالی کابل جواز خویش را فسخ مینماید مراتب فوق نگاشته شد.

که بعد از نشر اعلان رهنمای مذکور فاقد اعتبار قانونی بوده هرگاه ادارات دولتی و اشخاص انفرادی بالای موصوف ادعای حقوقی به ارتباط فعالیت جواز مذکور داشته باشند بعد از نشر اعلان الی یک هفته به ریاست انسجام وزارت عدلیه اطلاع دهند.۳۰۳۲

اعلان مفقودی

یک قطعه جواز تشبث شرکت تجارتی چناری کروخیل نمبر ۵۹۹۶ به اسم ایمل خان کروخیل ولد لالا خان مفقود گردیده از اعتبار ساقط است.۳۰۶۹

موضوع: اعلان داوطلبی باز ملی

شماره داوطلبی: NCB/1405/MOE/G-016

نوعیت قرارداد: بیع مطلق مؤجل

وزارت معارف از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت مینماید تا در داوطلبی؛ پروژه تهیه و خریداری ۱۱ قلم اجناس ضرورت مرکز گرمی تعمیر مرکزی وزارت ریاست خدمات بابت سال مالی ۱٤۰۵ ، اشتراک نموده و سافت کاپی شرطنامه مربوط را درحافظه یافلش دسک به دست آورده آفرهای خویش را مطابق شرایط مندرج شرطنامه، طبق قانون عقود و طرزالعمل تدارکات طور سربسته از تاریخ نشر اعلان الی ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر روز یکشنبه تاریخ ۲۱/سرطان/۱٤۰۵ به ریاست تدارکات وزارت معارف واقع ده افغانان، جاده محمد جان خان وات ارایه نمایند. آفرهای نا وقت رسیده و انترنیتی قابل پذیرش نمی باشد.

تضمین آفر لازم نبوده و جلسه آفرگشایی به روز یکشنبه تاریخ ۲۱ سرطان/ ۱٤۰۵ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر در صالون افرگشائی ریاست تدارکات وزارت معارف دایر میگردد.

اطلاعیه تصمیم اعطای قرارداد

حسب مقرارات به اطلاع عموم رسانیده میشود، اینکه وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان درنظردارد، پروژه تدارک ۵ پایه اسکنر کوچک مورد ضرورت گمرکات، دارای نمبرتشخیصه MOF/1405/NCB/G-1096 را با فرید اختر لوژستیکی و ساختمانی شرکت به قیمت مجموعی ۲۹۸۹۰۰۰۰ بیست ونه میلیون و هشتصد ونود هزارافغانی عقد قرارداد نماید.

اشخاص حقیقی و حکمی که هرگونه اعتراض درزمینه داشته باشند میتوانند اعتراض خویش را از تاریخ نشر این اعلان الی۵ روز کاری طور کتبی توام با دلایل آن به وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان واقع پشتونستان وات–کابل ارائه نماید

این اطلاعیه به معنی عقدقرارداد نبوده و الی تکمیل میعاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی، قرارداد منعقد نخواهد شد.

آدرس : وزارت مالیه چهارراهی پشتونستان -ریاست تدارکات،آمریت ارزیابی آفرها و خریداری پرچون- منزل دوم معینیت اداری.

موضوع: اعلان داوطلبی باز ملی

شماره داوطلبی: NCB/1405/MOE/G-014

نوعیت قرارداد: بیع مطلق مؤجل

وزارت معارف از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت مینماید تا در داوطلبی؛ پروژه تهیه و خریداری ۵۷ قلم مواد خام جهت تولید میز و چوکی ضرورت ریاست خدمات، بابت سال مالی ۱٤۰۵ ، اشتراک نموده و سافت کاپی شرطنامه مربوط را درحافظه یافلش دسک به دست آورده آفرهای خویش را مطابق شرایط مندرج شرطنامه، طبق قانون عقود و طرزالعمل تدارکات طور سربسته از تاریخ نشر اعلان الی ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر روز سه شنبه تاریخ ۲۳/سرطان/۱٤۰۵ به ریاست تدارکات وزارت معارف واقع ده افغانان، جاده محمد جان خان وات ارایه نمایند. آفرهای نا وقت رسیده و انترنیتی قابل پذیرش نمی باشد.

تضمین آفر لازم نبوده و جلسه آفرگشایی به روز سه شنبه تاریخ ۲۳ سرطان/ ۱٤۰۵ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر در صالون افرگشائی ریاست تدارکات وزارت معارف دایر میگردد.

موضوع: اطلاعیه تصمیم اعطای قرارداد

بدینوسیله به تاسی از قانون عقود به اطلاع عموم رسانیده می شود. وزارت اطلاعات و فرهنگ در نظر دارد، قرارداد تهیه و چاپ کتب و مواد تبلیغاتی مورد نیاز معینیت امور نشرات برای سال مالی ۱۴۰۵ با کود نمبر MOIC/G-6/RSB/1405 را به مطبعه محترم رضائی دارای جواز نمبر (۳۶۱) را به قیمت مجموعی مبلغ/۴.۸۴۱.۷۰۰- چهار میلیون و هشت صدو چهل و یک هزار و هفت صد افغانی اعطا نمایند.

اشخاص حقیقی و حکمی که هرگونه اعتراض در زمینه داشته باشند، می‌توانند اعتراض خویش را از تاریخ نشر اعلان الی ۵ روز تقویمی طور کتبی توام با دلایل آن را به معینیت ګرځندوی، مالی و اداری، آمریت تدارکات واقع چهار راهی ملک اصغر روبروی وزارت امور خارجه، وزارت اطلاعات وفرهنگ وفق احکام قانون عقود ارائه نمایید.

این اطلاعیه به معنی عقد قرارداد نبوده و الی تکمیل میعاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی، قرارداد منعقد نخواهند شد.

موضوع: اعلان دعوت به داوطلبی

کابل برشنا شرکت از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا در پروسه داوطلبی(تهیه و تدارک رنگ پرنتر دفاتر ریاست کابل بابت سال ۱٤۰۵) دارای کود نمبر(کابل برشنا–۱٤۰۵–دواطلبی - باز ملی داخلی- اجناس- ۰۲٦) اشتراک نموده و نقل شرطنامه را به شکل سافت در حافظه یا فلش دسک از مدیریت تدارکات کابل برشنا و سایت د افغانستان برشنا www.main.dabs.af بدست آورده ،آفر های خویش را مطابق شرایط مندرج شرطنامه و طبق قانون و طرزالعمل تدارکات طور سر بسته از تاریخ نشر اعلان الی ۱٤۰۵/۰٤/۳۰ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر به ریاست کابل برشنا واقع چمن حضوری شهر کابل ارایه نمایند آفرهای ناوقت رسیده و انترنیتی قابل پذیرش نمیباشد .

۱. تضمین افر: قابل تطبیق نبوده و فورم اظهارنامه تضمین آفر خانه پری گردد.

۲. توانایی مالی: مبلغ ٤۲٥,۳۷۰ چهار صدو بیست و پنج هزار و سه صدو هفتاد افغانی.

۳. آفر گشایی: جلسه آفر گشایی روز سه شنبه ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر مورخ ۱٤۰۵/۰٤/۳۰ برگزار میگردد.

٤. آدرس و محل جلسه آفر گشایی : منزل اول صالون قرارداد های ریاست کابل برشنا.

٥. آدرس اداره: کابل برشنا چمن حضوری ناحیه هشتم کابل افغانستان.

والسلام

برای معلومات بیشتر به شماره ذیل تماس گیرید.

شماره تماس: ۰۷۲۸٦٤۸۰٤۱

آدرس الکترونیکی : shekib.sediqi@kbd.dabs.af

موضوع: نشر اعلان ساحات معدنی در مربوطات ولایت لغمان!

وزارت معادن و پترولیم ساحات قرارداد ۳ پروژه معدنکاری مقیاس کوچک را که مشخصات آن ضم جدول میباشد، غرض جلب علاقه مندان به اعلان میسپارد.

علاقه مندان میتوانند از تاریخ ۱٤۰۵/۰٤/۰۱ الی ۱٤۰۵/۰٤/۳۱ ه ش درخواست های شان را به ریاست عمومی کادستر و تطبیق قرارداد ها تسلیم نموده، بعد از ارزیابی ابتدایی شرکت های واجد شرایط میتوانند اسناد لازم را بعد از تحویلی قیمت شرطنامه (پول غیر قابل برگشت) بدست بیاورند.

شماره	نوع مواد معدنی	نام ساحه	ولسوالی	ولایت	مساحت (Km²)	کوردینات N-Latitude S	N-Latitude M	N-Latitude D	E-Longitude S	E-Longitude M	E-Longitude D
۱	گرانیت	محدوده دوم پنج پای	مرکز	لغمان	۰٫۱۳۵۰۶۷	٤۱٫۳٦۷	٤۰	۳٤	٥٥٫۲۱٥	۱۶	۷۰
						۳۳٫۰۹۰	٤۰	۳٤	٥۰٫۲۸۰	۱۶	۷۰
						۳۷٫٤۷۹۰	٤۰	۳٤	۳٤٫٤۷۰	۱٦	۷۰
						٤٦٫٥٥۸	٤۰	۳٤	۳۳٫٤۸٥	۱٦	۷۰
۲	گرانیت	محدوده سوم پنج پای	مرکز	لغمان	۰٫۱۳۵۰٦۷	٤۷٫٦٤۸	٤۰	۳٤	٥۸٫۹٦۱	۱۶	۷۰
						٤۱٫۳٦۷	٤۰	۳٤	٥٥٫۲۱٥	۱۶	۷۰
						٤٦٫٥٥۸	٤۰	۳٤	۳۳٫٤۸٥	۱٦	۷۰
						٥۳٫۹۲٦	٤۰	۳٤	۳۲٫٦۸٥	۱٦	۷۰
۳	گرانیت	محدوده چهارم پنج پای	مرکز	لغمان	۰٫۱۳۵۰٦۷	٥۲٫۹۹۳	٤۰	۳٤	۲٫۱٤۹	۱۷	۷۰
						٤۷٫٦٤۸	٤۰	۳٤	٥۸٫۹٦۱	۱۶	۷۰
						٥۳٫۹۲٦	٤۰	۳٤	۳۲٫٦۸٥	۱٦	۷۰
						۰٫۱۹٥	٤۰	۳٤	۳۲٫۰۰٤	۱٦	۷۰

د فلسطين قضيه او د سيمې نوي ...

د ډېرو شنونکو په اند، د دغو تحولاتو يو مهم درس دا دی چې نړيوال ځواکونه تر ډېره خپلې ګټې او ستراتېژيک اهداف تعقيبوي او ژمنې يې تل د سيمې د ملتونو له هيلو او غوښتنو سره سمون نه خوري. له همدې امله د اسلامي نړۍ لپاره له ټولو مهمه اړتيا د متقابل تفاهم، يووالي، سياسي همغږۍ او ګډو دريځونو رامنځته کول دي، څو د خپلو ولسونو له حقونو او ګټو شخه په اغېزمنه توګه دفاع وکړای شي.

نن ورځ امريکا او متحدين يې هم پر دې حقيقت پوه شوي چې د جګړو دوام نه يوازې د سيمې ثبات له ګواښ سره مخ کوي، بلکې د دوی پوځي حضور، سيمه‌ييز متحدين او نړيوال اعتبار هم تر فشار لاندې راولي. له همدې امله د خبرو اترو، سياسي تفاهم او ډيپلوماتيکو حللارو اړتيا له بل هر وخته زياته محسوسېږي.

په پای کې ويلای شو چې د منځني ختيځ وروستيو تحولاتو يو ځل بيا وښودله چې جګړه د ستونزو د حل دايمي لاره نه ده. د فلسطين د مسئلې عادلانه حل، د سيمې د هېوادونو خپلواکي او د اسلامي امت ترمنځ يووالی هغه عوامل دي چې کولای شي د سيمې د ثبات او سولې لپاره اغېزمن بنسټونه برابر کړي.

د اسلامي امت د يووالي او بريالیتوب په هيله

رسيدگی به ۷ منازعه و نجات ۱۲ زن از ...

پرونده منازعه و دشمنی در ولایت‌های سرپل، فراه، میدان وردک، تخار و ننگرهار از طریق میانجی‌گری و تلاش مسئولان این وزارت حل‌وفصل شده است. وزارت امر بالمعروف، نهی عن‌المنکر و سمع شکایات تأکید کرده است که رسیدگی به شکایات مردمی، جلوگیری از خشونت‌های خانوادگی و تلاش برای حل اختلافات اجتماعی، از جمله مسئولیت‌های این وزارت به شمار می رود. رسیدگی به خشونت‌های خانوادگی و حل منازعات محلی، از موضوعات مهم اجتماعی در افغانستان است. نهادهای حکومتی و بزرگان محلی در بسیاری از مناطق، از طریق میانجی‌گری و گفتگو برای کاهش تنش‌ها و جلوگیری از گسترش اختلافات تلاش می کنند.

د ناشرانو او مطابعو ستونزو ته دې پر وخت ...

د ودې په اړه خبرې وکړې او ويې ويل: مطالعه د انسان له اساسي اړتياوو څخه ده ، د انسان ذهن پياوړی کوي او وړتيا يې زياتوي. وروسته د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د خپرونو چارو معين ښاغلي مهاجر فراهي وويل: ټولې مطبعې او ناشران مکلف دي، چې د خپلو کتابونو لپاره د (ISBN) شمېره ترلاسه کړي. نوموړي زياته کړه چې د مطبعو د مسئولينو، ناشرانو او کتاب پلورونکو ستونزې به وڅېړل شي او حل به شي او د هغوی لپاره په ماشين‌خانه کې مناسب ځای هم په پام کې نيول شوی دی. ښاغلي فراهي د اړوندو ادارو له مسئولينو څخه وغوښتل چې د کتابونو د برابرولو او پېرلو قراردادونه له کورنيو ناشرانو سره ترسره کړي، د نشراتو معين همدارنګه د کتاب خپروونکو او د مطبعو له مسئولينو څخه وغوښتل، داسې کتابونه چاپ او خپاره کړي، چې د ټولنې، په ځانګړې ډول د ځوانانو د فکري، فرهنګي او علمي ودې لپاره ګټور او ارزښتمن وي. په غونډه کې نورو ويناوالو د (ISBN) شمېرې د کارونې، د مؤلف، مصنف، ژباړن او خپرونکي د حقوقو او مسئوليتونو، د اسلام د مبارک دين او شرعي احکامو له نظره د چاپ حق د رعايت، د کتاب د بازارموندنې او د ناشرانو د جوازونو په اړه خبرې وکړې. د مطابعو استازو، ناشرانو او کتاب پلورونکو هم خپلې ستونزې، غوښتنې او وړانديزونه وړاندې کړل، چې اړوندو مسئولينو يې د څېړلو او حل داډ ځرګند کړ.

بغلان کې د کورنيو توليداتو او محصولاتو ...

محصولاتو لپاره د مناسب بازار موندنه او د هېواد د توليدي ظرفيتونو معرفي کول وبلل او زياته يې کړه، چې دغه نندارتون به د دربيو ورځو لپاره دوام وکړي. په همدې حال کې د بغلان والي مولوي عبدالله مختار د نندارتون د ليدنې پر مهال د پانګونې، د صنعتونو د ودې او اقتصادي فعاليتونو پر پراختيا ټينګار وکړ. نوموړي زياته کړه، چې د دې ډول نندارتونونو جوړول د هېواد د توليدي ظرفيتونو په معرفي کولو، د محصولاتو په بازارموندنه او د ملي اقتصاد په پياوړتيا کې مهم رول لري او له هېوادوالو يې وغوښتل، چې د کورنيو توليداتو په پېرلو سره د هېواد د اقتصاد په پياوړتيا کې ونډه واخلي. دغه راز په ياد نندارتون کې ګډونوال صنعت کار محمد سير منيب د دغه نندارتون له جوړېدو خوښي څرګنده کړې او د کورنيو توليداتو د ملاتړ، د مناسب بازار د رامنځته کېدو او د صنعت کارانو د محصولاتو د لا ښو معرفي کېدو لپاره يې د ورته نندارتونونو د دوام غوښتنه کړې ده.

د آريانا - افغان هوايي شرکت بوينګ ...

نن څخه خپل نړيوال پروازونه پيل کړي او تر ډېره به د کابل-استانبول او کابل-جدې پر لارو فعاليت ولري. آريانا - افغان شرکت ويلي: د دې الوتکې په فعالېدو سره به د هوايي ټرانسپورټ ظرفيت او د مسافرو او سوداګرو لپاره اسانتياوې لا زياتې شي.

پکتيکا کې د ۲۰ کيلومتره سړک ...

د والي مولوي عبدالخالق عابد، مرستيال والي قاضي نورالله حقاني، د ياد ولايت د ټولګټو چارو رئيس مولوي محمد اکبر عادل، يو شمېر سيمه‌ييزو مسئولينو، قومي مشرانو، مجاهدينو او د سيمې اوسېدونکو په شتون کې رسماً د ډيزاين بلټ په بڼه پيل شوې. ياد سړک ۲۰ کيلومتره اوږدوالی لري او د پروژې په چوکاټ کې به د سړک ترڅنګ يو شمېر اړين مصنوعي ساختمانونه هم ورغول شي او د دغه سړک رغنيزې چارې به د ۲۲ کاري مياشتو په موده کې بشپړې او ګټې اخيستنې ته به وسپارل شي. د يادې پروژې په جريان کې به د سيمې يو شمېر اوسېدونکو ته د کار زمينه برابره شي او په بشپړېدو سره به يې د پکتيکا ولايت د شپږو ولسواليو د اوسېدونکو د تګ‌راتګ ستونزې تر ډېره هوارې شي او دغه مسير به د انګور اډې له لارې له پاکستان سره ونښلول شي، چې د سوداګرۍ، ټرانزيټ او سيمه‌ييزو اقتصادي فعاليتونو لپاره به لا ډېرې اسانتياوې برابرې شي.

د نشه‌يي توکو پر وړاندې د مبارزې ...

غږ پورته کړئ» تر شعار لاندې جوړه شوې وه. د عامې روغتيا وزارت مسئولين وايي: دا مهال د هېواد په بېلابېلو ولايتونو کې د روږدو کسانو د درملنې ۶۷ فعال مرکزونه شته، چې زرګونه روږدي کسان پکې تر درملنې لاندې دي. په دې غونډه کې د عامې روغتيا وزارت د روغتيايي خدمتونو وړاندې کولو مرستيال، مولوي عبدالولي حقاني وويل: «په ۲۰۲۳ کال کې د اسلامي امارت د عاليقدر اميرالمؤمنين شيخ صاحب له لوري د نشه‌يي توکو پر وړاندې فرمان صادر شو، چې له مخې يې په ټول هېواد کې د نشه‌يي توکو کرل او قاچاق صفر ته رسېدلي دي.» ده زياته کړه، چې د عامې روغتيا وزارت زرګونه روږدي کسان راټول کړي او د دوی درملنه يې کړې ده. نوموړي ټينګار وکړ، چې د روږدو کسانو درملنه يوازې د اسلامي امارت مسئوليت نه، بلکې د ټولو هېوادوالو ګډ مسئوليت دی. د عامې روغتيا وزارت د خوړو او درملو مرستيال، مولوي حمدالله زاهد وويل: «نشه‌يي توکي د اسلام له نظره حرام دي او انسان له بېلابېلو بدمرغيو سره مخ کوي، چې وروستی پايله يې مرګ دی.» ده پر ټولو مسئولينو او هېوادوالو غږ وکړ، چې د نشه‌يي توکو د له منځه وړلو لپاره ګډ کار وکړي. د عامې روغتيا وزارت د معالجوي طب عمومي رئيس، ډاکټر وحدت الکوزي وويل: «د اسلامي امارت له بيا واکمنېدو مخکې په هېواد کې د روږدو کسانو شمېر په ميليونونو و، خو په تېرو څلورو کلونو کې د روږدو کسانو شمېر د پام وړ کم شوی او دا مهال د هېواد په ټولو ولايتونو کې د درملنې مرکزونه فعال دي.» ده زياته کړه: «اوس مهال د روږدو کسانو د درملنې ۶۷ مرکزونه فعال دي، چې ۱۴ يې د ښځو او ماشومانو، ۷ يې د نويو ځوانانو او ۴۵ يې د لويانو لپاره خدمات وړاندې کوي.» د نوموړي په وينا: «دا مهال ۳۸۰۰ کسان په دغو مرکزونو کې تر درملنې لاندې دي.» ده وويل: «هر کال له ۴۵ زرو څخه د زياتو روږدو کسانو درملنه ترسره کېږي او د نشه‌يي توکو د زيانونو په اړه ۳۸۰ زره کسانو ته عامه پوهاوي ورکول کېږي.» ښاغلي الکوزي ټينګار وکړ، چې روږدي کسان مجرمان نه، بلکې ناروغان دي او بايد درملنه يې وشي. د روږدو کسانو د درملنې د ملي برنامې رئيس مولوي انعام الله عمار وويل: «تېر کال يې له ۴۵ زرو څخه د زياتو روږدو کسانو درملنه کړې، له ۳۸۰ زرو څخه زياتو کسانو ته يې عامه پوهاوی ورکړی، له ۴ زرو څخه زيات روږدي کسان له فني او حرفوي زده کړو فارغ شوي او سلګونه روغتيايي کارکوونکي هم روزل شوي دي.» د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د نشه‌يي توکو او جرمونو پر وړاندې د مبارزې د دفتر استازي، پوليک اوک سيري وويل: «د دوامدارو بديلو معيشتونو د پروګرامونو ملاتړ اړين دی، څو بزګران د نشه‌يي توکو د کښت پر ځای نور ګټور محصولات وکري.» ده زياته کړه: «په ملي، سيمه‌ييزه او نړيواله کچه همکاري اړينه ده او د ملګرو ملتونو د نشه‌يي توکو او جرمونو اداره ژمنه ده، چې له ملي او نړيوالو شريکانو سره په ګډه د افغانستان د خلکو د هوساينې او ښېرازۍ لپاره عملي او دوامدارې حللارې ومومي.»

سميع الله مومند

خوست کې د غلاوو په تور يوه ۶ کسيزه ...

غلو څخه د غلا شوي کلاشينکوف په ګډون درې ميله کلاشينکوفونه، يوه توپنچه، دوه مخابرې، لس مبايلونه، يو اېپيډ، روسي خنجر، نظامي لباس او ګڼ شمېر شاجورونه او مرمۍ ترلاسه شوي. د نيول شويو کسانو دوسيې له بشپړېدو وروسته اړوندو عدلي او قضايي ارګانونو ته سپارل شوې دي.

Shariat
Daily

Shariat
Published by
Islamic Emirate of Afghanistan
Eng, Uzair Baryaly ، Director of Gov.dailies
0202526340
Chief Editor : M. Munir Farooqi
Email: info@shariatdaily.com
WWW.shariatdaily.com :ویب سایت

شریعت
د امارتي ورځپاڼو رئیس:
انجنیر عُزیر بریالی / ۰۲۰۲۵۲۶۳۴۰
مسئول مدیر: محمد منیر فاروقي / ۰۷۶۴۸۰۸۲۰۵
مسئول سکرتر: رفیع الله رؤفي/ ۰۷۹۵۰۰۰۳۱۰
ډیزاین: بصیر احمد امیري / ۰۷۹۲۶۰۹۰۶۲
د شریعت برښنا لیک: info@shariatdaily.com
پته: اتمه ناحیه، د المپیک څلور لارې، د حضوري چمن ختیځ، کابل ـ افغانستان
شماره توزیع و شکایات: ۰۲۰۲۳۱۲۵۰۹ / ۰۷۶۶۰۴۴۹۶۶ / ۰۷۳۱۶۰۶۰۷۳

Monday 29 June 2026 / Established: 1995 / 2nd Season / Vol: 1093

د افغانستان او قرغيزستان ترمنځ په بشکک کې د سوداګرۍ شورا جوړېږي

د افغان – قرغيز سوداګريز فورم غونډه د افغانستان او قرغيزستان د دولتي ادارو، سوداګريزو خونو او خصوصي سکتور د استازو او چارواکو په ګډون په بشکک کې تر سره شوه. په بشکيک کې د اسلامي امارت د سفارت سرپرست مولوي عبدالشکور حقاني د افغانستان او قرغيزستان ترمنځ د سوداګرۍ، پانګونې، ټرانزيټ او اقتصادي همکاريو د پراخ ظرفيت يادونه وکړه او ډاډ يې څرګند کړ، چې د دواړو هېوادونو ترمنځ به د سوداګريزو اړيکو د پياوړتيا او ګډو اقتصادي نوښتونو ملاتړ ته دوام ورکړي. همدا راز د افغانستان او قرغيزستان د سوداګرۍ خونو چارواکو د دواړو هېوادونو ترمنځ د سوداګريزو او اقتصادي همکاريو د لا پراختيا په برخه کې د هر اړخيز ملاتړ ډاډ ورکړ. د فورم په ترڅ کې د افغانستان او قرغيزستان ترمنځ "د سوداګرۍ شورا" د رامنځته کولو په موخه هوکړه ليک لاسليک شو، چې د دواړو هېوادونو د سوداګرو ترمنځ د مستقيمو اړيکو د پياوړتيا، ګډو نوښتونو د همغږۍ او اقتصادي پروژو د ودې او ملاتړ په برخو کې فعاليت لا پراخ کړي.

د نشه‌يي توکو پر وړاندې د مبارزې او عامه پوهاوي غونډه ترسره شوه

شریعت: د عامې روغتيا وزارت له لوري د نشه‌يي توکو پر وړاندې د مبارزې او عامه پوهاوي غونډه ترسره شوه، چې موخه يې د خلکو د پوهاوي لوړول، د نشه‌يي توکو د زيانونو په اړه د معلوماتو زياتول، د هېوادوالو ګډه مبارزه او د روغتيايي خدمتونو د لاسرسي ښه کول دي. ياده غونډه د «ځوانان وژغورئ، راتلونکی خوندي کړئ او د نشې پر وړاندې ... ۳مخ

د سرحدونو او قبايلو چارو وزير:
ازمايل شوې څېرې دې د هېواد د خپلواکۍ دعوې نه کوي

د سرحدونو، قومونو او قبايلو چارو وزير ملا نورالله نوري د سرپل ولايت له ولسونو سره د يووالي او همغږۍ ولسي غونډې ته ويلي: په اسلامي نظام کې د افغانانو عقيده، تاريخ، حريت او نواميس خوندي دي. ملانورالله نوري ويلي: چا چې شل کاله د افغانستان ولس ته د خپلو شومو موخو ازموينه ورکړې، هغه څېرې دې د ازاد او خپلواک افغانستان د ازادۍ چيغې نه وهي. نومووړي زياته کړې، ولسونه له اسلامي امارت سره په زور نه، بلکې د عقيدې، فکر، کلتور او سياست له مخې ولاړ دي. په ورته مهال د غونډې ګډونوالو د اسلامي نظام د لا استحکام اود ولسي يووالي په پياوړتيا ټينګار کړی او په خبره يې، هغه کسان چې د اسلامي نظام پر ضد توطيې جوړوي ولس ته د منلو نه دي او اجازه به ورنکړي، چې شته امن اخلال او د افغانستان په کورنيو چارو کې لاسوهنه وکړي.

روند بازگشت حجاج افغان رو به اختتام است

روند بازگشت و انتقال حجاج افغان از عربستان سعودی به افغانستان، پس از ادای مناسک حج سال ۱۴۴۷ هجری قمری، که از سوی وزارت ارشاد، حج و اوقاف در پانزدهم ماه ذوالحجة الحرام گذشته آغاز گردیده بود، اکنون مطابق پلان تنظیم شده در آستانهٔ تکمیل قرار دارد. تا کنون از میادین هوایی جده و مدینه منوره، ذریعه ۸۶ پرواز شرکت های هوایی آریانا افغان و کام ایر، در مجموع ۲۶۸۷۲ تن از حجاج کرام به‌صورت مصئون و منظم به چهار زون پروازی کشور (کابل، مزار شریف، هرات و قندهار) منتقل شده اند. از این جمله ۱۴۹۸۹ تن از حجاج کرام ذریعه ۴۸ پرواز از میدان هوایی جده و ۱۱۸۸۳ تن دیگر ذریعه ۳۸ پرواز از میدان هوایی مدینه منوره به طور مستقیم به افغانستان انتقال یافته اند. قرار است روند انتقال حدود ۳۱۲۸ تن از حجاج کرام که در مدینه منوره باقی مانده اند، تا روز چهارشنبه آینده به طور کامل به پایان برسد و با آن، پروسه حج سال ۱۴۴۷ هـ ق به‌گونه موفقانه خاتمه یابد، انشاءالله تعالی.

کار سروی توپوگرافی شهرک مهاجرین دند غوری بغلان آغاز گردید

تیم تخنیکی ریاست سروی و جی آی اس وزارت شهرسازی و مسکن، سروی توپوگرافی بخش دوم ساحه انکشافی شهرک مهاجرین ولسوالی دند غوری ولایت بغلان را آغاز کرده است. این سروی به مساحت ۱۲۵۰ جریب زمین، با هدف جمع‌آوری معلومات دقیق ساحه برای تهیه پلان تفصیلی شهرک، جریان دارد. به گفته تیم تخنیکی، در این مرحله، ارتفاعات، حدود، ساختار طبیعی و ویژگی‌های انجنیری ساحه به طور دقیق ثبت و اندازه‌گیری می‌شوند تا زمینه تخنیکی کامل برای تدوین یک پلان شهری معیاری فراهم شود. قابل ذکر است که روند ساخت شهرک مهاجرین مطابق با اصول توسعه شهری منظم، رفع نیازهای مسکن و برنامه‌ریزی شهری معیاری انجام می‌شود.

پنجشېر؛ جهادي موزيم ته ۳۴ قلمه تاريخي اثار وسپارل شول

د پنجشېر ولايت د اطلاعاتو او فرهنګ رياست اړوند جهادي موزيم ته د ۲۰ کلن جهاد مربوط ۳۴ تاريخي اثار وسپارل شول. د ياد ولايت د اطلاعاتو او فرهنګ رئيس مولوي نصرالله ملک زاده

ډاډ ورکړ، چې ياد اثار به په خوندي ډول وساتل شي. نوموړي دغه راز د جهادي موزيم د بډايېدو او په دې برخه کې د لا ښو اسانتياوو د برابرولو پر اړتيا ټينګار وکړ. ده زياته کړه چې په دغو اثارو کې د سپکو او درنو وسلو مرمۍ، لاسي بمونه، د چسپکي ماينونو په جوړولو کې کارېدونکې ليتيمي بيټرۍ، د چسپکي ماين ځانګړې پټاقۍ او د ثانيه سوز فتيلې شاملې دي.

خوست کې د غلاوو په تور يوه شپږ کسيزه ډله ونيول شوه

د خوست ولايت د امنيه قوماندانۍ اړوند د اسماعيل خېلو – مندوزيو ولسوالۍ له جنايي جرمونو سره د مبارزې ځواکونو د يادې ولسوالۍ د

استخباراتو د منسوبينو په همکارۍ، د دقيقو کشفي معلوماتو پر بنسټ يوه شپږ کسيزه ډله مسلکي غله نيولي، چې تېره مياشت يې د مرکز ټنډي کلي په سيمه کې له نظامي يونيفورم او د مجاهدينو له نوم څخه په ناوړې استفادې د يو تن هېوادوال له کور څخه ۱ ميل کلاشينکوف، يوه توپنچه، ۲ لکه او ۵۰ زره افغانۍ، يو لک او پنځوس زره کلدارې، پنځه تولې سره زر او يو شمېر نور توکي غلا کړي وو. له نيول شويو ... ۳مخ

ايران په کوېټ او بحرين کې د امريکا پوځي اهداف په نښه کړي

د ايران سپاه پاسداران ځواکونو ادعا کړې، چې په کوېټ او بحرين کې يې د امريکا پر اتو پوځي اهدافو د ډرونونو او توغنديو بريدونه کړي دي. ويل کېږي دغه اهداف د علي السالم هوايي اډې او د امريکا د سمندري ځواکونو تاسيسات وو او بريدونه د امريکا د وروستيو حملو په ځواب کې شوي. کوېټ ويلي چې د دوی د هوايي دفاع سيستمونو ډرونونه شنډ کړي، خو امريکا تر اوسه د احتمالي زيان په اړه رسمي معلومات نه دي ورکړي. له دې مخکې د امريکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ ويلي وو، چې د دوی جنګي الوتکو په ايران کې د توغنديو او ډرونونو زېرمې او همدا راز ساحلي رادارونه هدف ګرځولي.

حمله بر تأسیسات رنجرز ۷ کشته برجا گذاشت

شبکه خبری الجزیره خبر داده که در حمله بر تأسیسات نیروهای رنجرز در کراچی پاکستان ۷ تن کشته شدند. این رسانه در خبری گفته که در این حمله ۳ نیروی امنیتی و ۴ مهاجم کشته و شماری دیگر زخمی شده اند. مقامات امنیتی پاکستان می‌گویند که مهاجمین پس از انفجار در دروازه ورودی نیروهای رنجرز تلاش داشتند وارد تأسیسات نیروها شوند. الجزیره گفته که گروه وابسته به تحریک طالبان پاکستان مسئولیت این حمله را بر عهده گرفته است.

فرانسه کې د تودوخې شديده څپه؛ له زرو ډېر کسان مړه شوي

د فرانسې د عامې روغتيا وزارت ويلي چې اروپا کې د بې‌سارې ګرمۍ د څپې له امله په دغه هېواد کې شاوخوا زر اضافي مړينې ثبت شوې دي. چارواکي خبرداری ورکوي چې د مړينو اصلي شمېر ښايي له دې هم لوړ شي، ځکه د زړو کسانو د پالنځايونو او کورونو بشپړ معلومات لا نه دي راټول شوي. د ګرمۍ له امله ډېر قربانيان عمرخوړلي کسان دي او د سختې ګرمۍ اغېزې د ټولنې پر بېلابېلو قشرونو محسوسې شوې دي. په اروپا کې دا ګرمۍ د تاريخ له ډېرو سختو څپو څخه ګڼل کېږي او لا هم ځينې سيمې تر خبرداري لاندې دي.

موج دستگیری مقامات ارشد عراق به اتهام فساد

نیروهای امنیتی عراق در منطقه سبز بغداد عملیات گسترده ضد فساد انجام دادند و شماری از سیاستمداران، بازرگانان و اعضای پارلمان را بازداشت کردند. این عملیات پس از اعترافات عدنان الجمیلی، معاون سابق وزیر نفت عراق در پرونده‌های فساد مالی مرتبط با قراردادهای نفتی و رشوه‌گیری صورت گرفته است. حکم بازداشت این افراد از سوی دادگاه مبارزه با فساد صادر شده و مقام‌ها می‌گویند: احتمال گسترش این پرونده به سطوح بالاتر نیز وجود دارد.

نايجيريا کې ناپېژاندو وسله‌والو ۱۷ بزګران وژلي

انډيپنډنټ ورځپاڼې راپور ورکړی، چې ناپېژاندو وسله‌والو د نايجيريا زامفارا ايالت کې ۱۷ بزګران وژلي او يو شمېر نور يې تښتولي دي. سيمه‌ييزو چارواکو ويلي: وسله‌والو د باج او لوټمارۍ لپاره پر کرنيزو ټولنو بريدونه زيات کړي، چې له امله يې کروندګر د خپلو ځمکو پرېښودلو ته اړ شوي دي. د پيسو نړيوال صندوق (آی ايم ايف) هم خبرداری ورکړی چې د دغه وضعيت دوام به ياد هېواد کې د فقر د زياتېدو لامل وګرځي.